# بسم الله الرحمن الرحيم

# د افغانستان د علومو اکاډمي
# د بشري علومو معاونیت
## د ټولنیزو علومو مرکز
## د اقتصاد انستیتوت

علمي - څېړنیز سیمینار:

## د افغانستان-ازبکستان د ګډ سوداګریز بازار فرصتونه، ننګونې او د هغو حل لارې

**وړاندې کوونکی: څېړندوی شوکت الله عابد**

وخت/نېټه او ځای: سه شنبه، د سهار لس بجې1405/5/27-ل. نېټه، د ټولنیزو علومو مرکز.

# فهرست

- لنډیز
- سریزه
- ګډ سوداګریز بازارونه
- د افغانستان-ازبکستان ګډ سوداګریز بازار
- فرصتونه
- ننګونې
- حل لارې
- پایلې
- مأخذونه

## لنډیز

ګډ سوداګریز بازارونه د تولیداتو په بازار موندني او سوداګرۍ کې مهم اقتصادي او سوداګریز فرصتونه بلل کیږي. له دغو فرصتونو څخه ټول دخیل اړخونه اقتصادي ګټه پورته کوي، تولید پراختیا مومي، پیرېدونکو ته د دوی د اړتیاوو او غوښتنو سره سم  په اسانۍ او ټیټه بیه تولید رسیږي، نوي پیرېدونکو جذبیږي، پانګونه پراختیا مومي، د خصوصي او عامه ګډې پانګونې فرصتونه ایجادیږي، د کار او دندو د ایجاد زمینه برابریږي او له نورو ډیرو اقتصادي ښېګڼو څخه ګټه پورته کېدای شي.

## د څېړنې اهمیت

د دې څېړنې اهمیت په دې کې دی چې په دغه ګډ بازار کې شته ننګونې په نښه او د حل په موخه یې مناسبې حل لارې او وړاندېزونه وړاندې کړې او دا چاره چې، په یاد بازار کې د سوداګریزې راکړې ورکړې وضعیت د ښه والي لپاره مشخص مکانیزمونه وړاندې کوي، خورا لوړ اقتصادي اهمیت لري.

## موخه

د دې څېړنې اصلي موخه داده چې د افغانستان – ازبکستان په ګډ سوداګریز بازار کې شته ننګونې رابرسیره او دحل په موخه یې اړوندو ادارو ته مناسبې حل لارې او وړاندېزونه وړاندې کړي.




**د څېړنې میتود**

د دې څېړنې په بشپړولو کې اثارو، احصایوي راپوروونو، متعبرو ویبپاڼو او نورو سرچینو څخه معلومات ترلاسه شوي او د توصیفي – تحلیلي Descriptive–Analytical Research Method میتود په وسیله د دغو معلوماتو او ارقامو تحلیل او ارزونه شوې ده.

**د څېړنې پوښتنه**

د افغانستان – ازبکستان ګډ سوداګریز بازار کې د افغان سوداګرو لپاره کوم **فرصتونه او کومې ننګونې** شتون لري؟

**د څېړنې فرضیه**


ګمان ګېږي چې په د افغانستان – ازبکستان ګډ سوداګریز بازار کې یو لړ ننګونې شتون لري، چې د افغان سوداګرو د پانګونې د پراختیا مخه یې ډب کړې ده.

## سریزه

افغانستان د مصرفي او تجارت محوره اقتصاد په لرلو سره کورنۍ اړتیا تر ډېره په وارداتو متکي ده او د هېواد کورنی تولید د کورنۍ اړتیاوو او تقاضاوو د ځواب لپاره بسنه نه کوي. همدې اړتیاوو او غوښتنو ته په کتو افغانستان د نړۍ شا او خوا له ۱۰۰ هېوادونو سره سوداګریزې اړیکې لري او دا اړیکې ورځ تر بلې پراخیږي. چې له دې جملې څخه د منځنۍ آسیا له هېوادونو سره افغانستان هر کال تر یو ملیارد ډالرو ډېره سوداګري لري، چې د دغو هېوادونو له ډلې څخه یو هم ازبکستان دی.

د همدې سوداګریزو اړیکو په لړ کې په ورځنۍ توګه د افغانستان کابو ۶۵۰ بار وړونکي موټرې د ازبکستان بېلابېلو سیمو ته د لېږد را لېږد چاره سرته رسوي، چې د دواړو هېوادونو د سوداګرۍ په برخه کې دغه اړیکې خورا اهمیت لري.


## د مرکزي اسیا 5 هېوادونو ته د افغانستان د 1401 کال د صادراتو سهم




د 1401 ل کال صادرات ( میلیون ډالر )


- ازبکستان: ۴۵
- تاجکستان ته ۱۲
- قزاقستان ته ۱۱
- قرغزستان ته ٦,٣ او
- ترکمنستان ته ۱,٦۱

- په ۱۴۰۳ل کال کې د افغانستان او مرکزي آسیا هېوادونو تر منځ ۱.٦۹٦ یو میلیارد شپږ سوه شپږ نوي ډآلر سوداګري ثبت شوې ده. اما په ورستیو کې د پاکستان سره په صفري نقطو کې امنیتي او سیاسي ستونزې د دې لامل شوی چې د دغه هېواد سره د سوداګری بېلانس ټیټ او پر ځای یې ازبکستان او د منځنی آسیا هېوادونو سره د سوداګری بېلانس لوړ شي. د ۱۴۰۰ ل کال په پرتله دغه ارقام نسبتاً لوړ دي چې بېلابېل لاملونه لري، لکه: د افغانستان او اړوندو هېوادونو ښې سوداګریزې اړیکې، په ازبکستان کې د افغاني تولیداتو تقاضا، د افغانستان داخلي اړتیاوې، ارزانه ترانسپورتي لګښتونه، د افغانیو د ارزښت ثبات، سیاسي ثبات او داسې نور.




ازبکستان ته د افغانستان په صادراتو کې د 1403ل کال
په نسبت په 1404 کال کې 108٪ ډېروالی راغلی دی.

د دغو ټولو سوداګریزو فرصتونو اهمیت په نظر کې نیولو سره، د دې څېړنې د موضوع اړوند دلته یواځې د افغانستان-ازبکستان ګډ بازار فرصتونه او ننګونې تحلیل شوي، چې په دې څېړنه کې به په دغه بازار کې د شته ننګونو او ستونزو په حل سربېره د شته فرصتونو اقتصادي اهمیت په ډاګه او په دې برخه کې به د دواړو لورو د اقتصادي او سوداګریزو اړیکو د پراختیا لپاره مناسب وړاندېزونه وشي. همداشان په دې برخه کې محدودې لیکنې شتون لري چې د دې څېړنې په وسیله به دغه څېړنیزه تشه یو څه ډکه شي او په دې موضوع باندې به د نورو څېړنو او مطالعاتو زمینه برابر شي. په ټوله کې به د دې څېړنې په وسیله، په دغه بازار کې د افغانستان او ازبکستان د سوداګرۍ لپاره شته فرصتونه روښانه او شته ننګونې به رابرسیره شي.




- د سوداګرۍ پراختیا
- د تولید پراختیا
- د برحالو مشتریانو ساتنه
- د نویو مشتریانو جذب
- د ګټې او مفاد ډېروالی
- د دندو ایجاد
- د مالیاتي سرچینو پراختیا
- د نویو ټکنالوژیو کارونه...

**د سوداګریزو بازارونو اساسي موخې**

## ګډ بازارونه / ګډ سوداګریز بازارونه

- 19 پېړۍ – په آسيا کې يې د فعاليت د پيل دوره؛
- 20 پېړۍ – د اقتصادي ابزارو په توګه وپېژندل شول؛
- 21 پېړۍ – د شدید پرمختګ دوره؛

- په ۱۹۹۵ز کال کې د نړۍ په کچه ۵۰۰ آزاد زونونه،
- په ۲۰۰۶ ز کال کې دغه اندازه تر ۳۶۰۰ پورې ورسیده،
- وروسته دا شمېر لا پورته لاړه او تر ۵۴۰۰ پورې زونونو ایجاد شول،
- په ۲۰۲۴ز کال کې دا اندازه تر ۷۰۰۰ اوړې.
- اوسمهال په نړۍ کې دغه شمېره لا هم مخ په پورته روانه ده.

## جفزا یا جبل علي ازاد زون

70000- فعالي کمپنۍ موجودې دي.
170 – میلیارده ډالر سوداګري په کلني ډول ترسره کیږي.












# اهمیت

ګډ سوداګریز بازارونه:

- د پانګونې جذب کې نقش لري؛
- د زیربنا پراختیا کې رغنده رول لري؛
- اقتصادي ودې او پرمختیا  سره مرسته کوي؛
- د نوښتونو له پراختیا سره مرسته کوي؛
- د سیاسي او ډیپلوماټیکو اړیکو پراختیا کې رول لري؛
- سیمه ییز ادغام سره مرسته کوي
- تولیدي وړتیاوې لوړوي...

# د افغانستان-ازبکستان ګډ سوداګریز بازار

- موقعیت
- مساحت
- پرانیسته
- لګښت
- پلورنځي او هټۍ

(پلان شوي/ موجود)

د افغانستان-ازبکستان ګډ سوداګریز بازار یا آزاد سوداګریز زون د حیرتانو سرحدي نقطې ته نږدې د ترمذ په ساحه کې موقعیت لري.

مساحت ۲۶۰۰۰۰ متره مربع دی چې د بېلابېلو جنسونو پلورنځي، تولیدي سیمې، د صادراتو او وارداتو لپاره د لوجیستیک مرکز، رستورانتونه، میلمستونونه، هاستل، روغتون، د تیلو ټانک او تفریحي ځایونه په کې شامل دي.


دغه بازار په ۲۰۲۴ز کال کې پرانیستل شوي.

دغه بازار د ۷۰ میلیونه ډالرو په مصرف او ارزښت جوړ شوي دی.

۳۶۳ پورې پلورنځي او هټۍ موجود دي

- ۸۸ یې افغان سوداګرو او هټۍ والو ته ځانګړي شوي دي
- ۲۷۵ یې د ازبک سوداګرو او هټۍ والو ته ورکول شوي دي.
- د هر دکان یو متر مربع 3 ډالر کرایه ده.

د دغه زون د جوړولو په برنامه او طرحه کې تر ۱۸۰۰ پورې پلورنځي طرحه شوي، چې کلنۍ ګټه به یې ۵۰۰ میلیون ډالر وي، د خدمتونو اندازه به یې ۱۰ میلیون ډالر وړاندوینه شوې وه.




افغانستان ازبکستان مشترک بازار





**موخي**

- د تعرفو اړوند ننگونې کمول
- سوداگریز محدودیتونه له منځه وړل
- **بازارموندنه**
- په اسانۍ سره تولید ته لاسرسی
- سوداگریزه پراختیا...

[redacted]

## فرصتونه

### د ازبک اړخ لپاره:

- د ازبکک تولید لپاره غوره مارکیټ ایجاد شوی او ډېر افغان پېرېدونکي یې جذب کړي دي.
- په دغه بازار کې ۲۷۵ هټۍ د ازبکستان لوري په واک کې دي او سوداګري په کې ترسره کېږي.
- د دغو سوداګریزو فعالیتونو مالیات د ازبکستان دولت ته تحویلیږي.
- په دغه سیمه کې تر ۳۰۰۰ خلکو ته د کار زمینه برابره شوې ده.
- د حفظ او مراقبت، امنیتي پوښښ، خدماتي برخې او نور برخو کې ازبک متخصیصین او کارګر په دندو بوخت دي.
- د ګمرکي 24/7 خدمتونه

### د افغان اړخ لپاره:

- ۸۸ پورې هټۍ د افغان سوداګرو په واک کې دي، چې افغان توکي او جنسونه په کې پلورل کیږي.
- د افغان تولید بازارموندنه ترسره کیږي.
- د افغان ناروغانو د درملني فرصت شتون؛
- له افغان سوداګرو (پر عاید) مالیه نه اخیستل کیږي، چې د افغان تولید د هڅوني لپاره ښه اقدام دی.
- د افغان ازبک سوداګرو B2B مجلسونو ترسره کیدل.


- د ۲۰۲۵ز کال په لومړیو اتو میاشتو کې افغانستان ته د ازبکستان صادرات ۸۸۱.٦ میلیون ډالرو ته رسیدلي دي، چې دغه رقم د ازبکستان د ټولو صادراتو ۳.۸ سلنه جوړوي.
- د ارقامو له تحلیل څخه معلومیږي چې د ازبکستان د صادراتو په برخه کې د ۲۰۲۵ ز کال کې د ۲۰۲۴ز کال د صادراتو پر تله ۴۵.۵ سلنه ډېروالی راغلی او همداشان د ۲۰۲۳ز کال پرتله په کې ۸۴.۴ سلنه ډېروالی راغلی دی. دغه سوداګریزې اړیکې د ازبکستان د اقتصاد لپاره یو ښه فرصت دی او د دې فرصت د پراختیا لپاره د ګډ بازار له لارې د پراختیا نور امکانات هم موجود دي.

## ننګونې

- د پیرودونکو په تګ راتګ شته محدودیتونه
- د پیرودنکو محدوده د پیر اندازه
- د افغانیو نه چلښت
- د افغان سوداګرۍ محدودې هټۍ او سوداګریز مرکزونه
- د ازبک مشتریانو له لوري يې حکومت ته د تعرفې ورکول
- د افغان سوداګرو جنسونه جلا جلا وزن کېږي، لومړی باید ټول جنسونه سره جلا، جلا کړي، بیا هر یو وزن کېږي.
- ترمذ نړیوال سوداګریز مرکز/ که، ازبکستان-افغانستان ګډ سوداګریز مرکز


- که ازبک پیرودونکي له 10 کیلو څخه ډېر جنس اخلي، نو په هر کیلو باید 3 ډالر مالیه ورکړي.
- له همدې امله ازبک پېرېدونکو ته افغان تولید په لوړه بیه تمامېږي او دا موضوع د ازبک کورنیو په اقتصاد منفي اغېز کوي. که د ازبکستان د سړي سر عاید ته وکتل شي، نو د منځنۍ آسیا د ځینو هېوادونو (قزاقستان او ترکمنستان) په نسبت د دوی د سړي سر عاید کم دی او د سړي سر عاید د کورنیو له مصارفو سره مستقمیه او مثبته اړیکه لري. باید یادونه وشي چې سړي سرعاید او د کورنیو مصارف یو له بل سره مثبته اړیکه لري. په اوږد مهادل کې یوه سلنه سړي سر عاید ډېروالی د کورنیو په مصارفو کې 1.12 سلنه ډېروالی راولي. که د سړي د سر عاید لږ وي، نو د مصرف په کچه او د پیر په څواک مستقیم منفي اغېز کوي.
- په بازار کې د افغان تولید عرضې لپاره د ازبکستان د تولید پرتله نسبتاً لږ شمېر دوکانونه ځانگړي کېدل، د ازبک پېرېدونکو لپاره دا ستونزه زېږولې، څکه دوی د خپلې خوښې، غوښتنې او اړتیا د څواب لپاره کم فرصت لري.

د دواړو هېوادونو اقتصادي نابرابري یو بله مهمه موضوع ده، چې په لاندې ارقامو کې د دواړو هېوادونو ناخالص تولید او سړي سر عاید کچه سره په مقایسوي ډول ښودل شوې ده.




ناخالص تولید

سړي سر عاید






له څېړنې دا څرګندیږي چې افغان تولید، همدغو
ټکو ته په کتو له ازبک تولید سره د سالم رقابت
په برخه کې له خنډونو او ستونزو سره مخامخ
دی. په عمومي توګه په ازبک او یا هم د ګاونډیو
هېوادونو په بازارونو کې د افغان تولید د سهم او د
ملاتړ پر وړاندې دې د شته ننګونو د له منځه
وړلو لپاره اړین اقدامات پورته شي.

# حل لارې

## پېشنهادي حل لارې او تطبيقي مکانيزمونه

- د تگ راتگ په برخه کې ځانگړې اسانتياوې برابرول او د سوداگرو لپاره د سرحدي نقطو پاس يا اجازه نامه رامنځ ته کول؛
- د ازبک اړخ سره د اساسي تفاهم پر بنسټ، د افغان توليد د بازار د پراختيا په موخه د ازبک مشتريانو د پير ستونزې له منځه وړل؛
- په دغه بازار کې د افغانيو د چلښت او په دغه پيسو راکړه ورکړې رايج لپاره د اړوند هېواد له مسؤلينو سره تفاهم کول؛
- همدارنگه په دغه بازار کې د افغانستان او ازبکستان د بانکونو نماينده گۍ او د ډيجيټلي تادياتو سيستم رامنځ ته کول.
- په ياد بازار کې د افغان هټۍ والو شمېر ډېرولو او همدارنگه د دکانونو او سوداگريزو مزکرو د اجارې د لا ډېرو سهولتونو په هکله همغږي کول.
- گډ بازار ته د افغان توليد په انتقال کې سهولتونه رامنځ ته کول او دغه پروسه د امکان تر حده ساده کول.
- د بازار د ټولو اړخونو د تنظيم لپاره گډه دايمي کمېټه رامنځ ته کول.

## One-Stop Service Center
## د یوې/واحدې کړکې د خدمتونو مرکز

### عملي او تطبیقي مکانیزمونه:


د دواړو هېوادونو د اړوند سکتور ترمنځ د ځانګړی هوکړه لیک (MoU) لاسلیک کول، چې په وسیله یې باید د دغه بازار سوداګر ثبت، ګډ ډیټابېس رامنځته او د دوی لپاره د یو کلن یا شپږ میاشتني بازار ته د اجازې (پاس) صادرول، او په سرحد کې د چټک تګ راتګ (Fast Track) ځانګړې لار جوړول.

د مشتریانو د رضایت او د دوه اړخیزو تجارتي ګټو په نظر کې نیولو سره دې په دغه ګډ بازار کې پلور، پیر، د کرنسۍ د تبادلې او چلښت... او نور موضوعاتو د ارزونې ګډه، هر اړخیزه کمېټه رامنځته شي او دوی دوامداره نوبتي غونډې کوي.

د افغانستان بانک او د ازبکستان مرکزي بانک ترمنځ د اسعارو د تصفیې (Settlement) تړون رامنځ ته کول؛

په ګمرک کې د Single Window System (SWS) سیستم، د وار له مخې د اسنادو ثبت (Pre-clearance) او نورو مدرن خدمتونه پلي کول او په سرحدي نقطه کې د One-Stop Service Center مرکز جوړول.



# پایله

- له ځېړنې جوتیږي چې په دغه بازار کې د افغانستان تولید سهم ډېر کم دی.
- تر دې دمه په دغه بازار کې د افغان سوداګرو پر عاید مالیه نه اخېستل کېږي، اما په دې اړه د ازبکستان دولت له لوري کوم تقنیني اساسي دایمي سند نه دی صادر شوی چې د افغان پانګوالو دایمي ډاډ حاصل شي. په همدې ډول د مالیې په وضع کولو سره د جنس وروستی نرخ پورته ځي، نو دا هم جوته ده، چې د نرخونو دغه بدلونونه د کورنیو په لګښتونو باندې اغېز کوي، چې په دې سره د افغان تولید بازار کم رنګه کېدی شي.
- د دکانونو په ویش کې انډول نه دی شوی، نو د ازبک پیرودونکو د اړتیا او تقاضا د پوره کولو په موخه د افغان سوداګرو هڅې بسنه نه کوي.
- همدارنګه په دغه بازار کې د خدمتونو په برخه کې افغان متخصیصینو او کارګرو ته د کار زمینه نه ده مساعده شوې او د بازار ټولې برخې د ازبک لوري په وسیله اداره کېږي.

# وړاندیزونه

- په دغه بازار کې د افغان تولید د  سهم په اړه دې د دواړو هېوادو د سوداګرۍ د سکتور د مسؤلینو تر منځ یوه اوږدمهاله/دایمي هوکړه وشي، چې د افغان سوداګرو او افغان تولید د سهم په زیاتوالي کې او له مقابل جانب سره په یو شان والي کې سهولتونو رامنځ ته شي.
- د صنعت او تجارت وزارت ته وړاندېز کېږي چې دازبک لوري سره د همغږۍ په پایله کې، په دغه بازار کې د افغان سوداګرو پر عاید د مالیې په اړه دې د ازبکستان دولت له لوري تقنیني اسناد صادر شي، چې د افغان سوداګرو ډاډ حاصل او سوداګریز راتلونکي يې تضمین شي.
- اړوندو سکتوري (د سوداګرۍ او مالیې وزارتونه) برخو ته وړاندېز کېږي چې دغه بازار ته د افغان لوري څخه د جنسونو په انتقال کې د سهولتونو د رامنځ ته کېدو لپاره د مقابل لوري سره کار وکړي.

# مأخذونه


- ACCI. (1403). *ACCI.org.af*. Retrieved from https://acci.org.af/pa/more/ . access: 1/8/1404
- Ariana. (2026). *Uzbekistan-Afghanistan trade rises to1.6-billion in 2025*. retrieved from: https://www.ariananews.af/uzbekistan-afghanistan-trade-rises-to-1-6-billion-in-2025/
- ADB. (2023). *Economic Corridor development form conceptual framework to practical implementation sep/2023.* Asian Development Bank. doi:DOI: http://dx.doi.org/10.22617/TCS230348-2
- airitom. (2025). *airitom.com*. Retrieved from airition.com: https://airitom.com. access: 1/8/1404
- Cashin, David (2017). "The Household Expenditure Response to a Consumption Tax Rate Increase," Finance and Economics Discussion Series 2017-035. Washington: Board of Governors of the Federal Reserve System, https://doi.org/10.17016/FEDS.2017.035.
- Cüneyt KOYUNCU & Hüseyin Safa ÜNAL. (2020). The Link between GDP and Household Consumption Expenditures in the Long-run in. *Balkan and Near Eastern Journal of Social Sciences*, 171-177. Retrieved 10 30, 2025, from https://ibaness.org/bnejss/2020_06_01/14_Koyuncu_and_Unal.pdf
- Fernandes, N. (2024, sept 18). *IFZA*. Retrieved from ifza.com: https://ifza.com/en/the-role-of-free-trade-zones-in-creating-investment-opportunities/
- Ford, D. J. (2024, sept 4). *https://ifza.com/en/*. Retrieved from https://ifza.com/en/role-of-free-zones-in-the-global-economy-dubai/
- Goryachkin, P. (2024, 12 22). *uz.kursiv.media*. Retrieved from uz.kursiv.media: https://uz.kursiv.media/en/2024-12-22/cherez-torgovyj-czentr-termez-eksportirovali-produkcziyu-na-155-mln/
- irsalogistics. (2025). *irsalogistics*. Retrieved from irsalogistics: https://irsalogistics.com/introduction-to-free-trade-zones-worldwide/ access: 1/8/1404
- Kamran, N. (2024). *zabulicenter*. Retrieved from zabulicenter: https://zabulicenter.org/op-eds-details?lang=dr&nid=191. access: 1/8/1404
- nca. (2024, 8 30). *news central Asia*. Retrieved from https://www.newscentralasia.net/2024/08/30/international-trade-center

- oec. (2025). *Observatory of Economic Complexity*. Retrieved from https://oec.world/en/profile/bilateral-country/afg/partner/uzb. access: 1/8/1404
- Prosper Ng'andu,Lewis Bwalya Chilufya, David Phillips. (2019). *Free Trade Agreement and Prospects of Regional Integration in Southern Africa: An Evaluation of Impingements to Southern Africa Development Community (SADC) Free Trade Area (FTA)*. International Journal of Innovative Science and Research Technology, *4*(9), 489-495. Retrieved from https://www.researchgate.net/publication/383665456_Free_Trade_Agreement_and_Prospects_of_Regional_Integration_in_Southern_Africa_An_Evaluation_of_Impingements_to_Southern_Africa_Development_Community_SADC_Free_Trade_Area_FTA
- trading economics. (2025). *trading economics*. Retrieved from https://tradingeconomics.com/uzbekistan/imports/afghanistan. access: 8/8/1404
- Uzbekistan, p. o. (2021, 6 1). *president office of Uzbekistan*. Retrieved from president office of Uzbekistan: https://www.president.uz/en/lists/view/4393. 8/8/1404
- Vladimir Paramonow & Alexey Stropkov. (2006). *The Economic Reconstruction of Afghanistan and the role of Uzbekistan.* United Kingdom: Defense Academy of the United Kingdom. Conflict Research Center.
- WB. (2023). *GDP Afghanistan.* World bank. Retrieved from https://data.worldbank.org/indicator/NY.GDP.MKTP.CD?locations=AF. access: 10/8/1404
- WB. (2023). GDP-Uzbekistan. Retrieved from https://data.worldbank.org/indicator/NY.GDP.MKTP.CD?locations=UZ. access: 10/8/1404
- WB. (2024). world bank. Retrieved from data.worldbank.org: https://data.worldbank.org/indicator/NY.GDP.PCAP.CD?locations=TJ-UZ-KZ-TM-KG. access: 10/8/1404
- Stat. 2026. merchandis trad. Retrieved form: https://stat.uz/en/official-statistics/merchandise-trade.
- https://paigardnews.com/?p=15913
- World meters. 2026. Uzbekistan GDP. Retrieved from: https://www.worldometers.info/gdp/uzbekistan-gdp/
- World meters. 2026. Afghanistan GDP. Retrieved from: https://www.worldometers.info/gdp/afghanistan-gdp/

- احساس, ب. (۱۴۰۳ل). لاسرسی: https://www.bbc.com/pashto/articles/ced9jgvx7p7o. [مراجعه: 10/8/1404]
- ایراف .(۲۰۲۴ز). صادرات افغانستان به 80 کشور جهان. *ایراف* Retrieved from iraf.ir: https://iraf.ir/?p=84802 .
- اسپوتنیک. (۲۰۲۵ز). لاسرسی: https://sputnik.af/ ۰۳/۱۱/۲۰۲۵. [مراجعه: ۱۴۰۴/۸/۱۰]
- د صنعت او تجارت وزارت. (۱۴۰۴ل). *گزارش تحلیلی و مقایسوي میزات تجارت افغانستان طی سال ۱۴۰۱1*. لاسرسی: *د صنعت او تجارت وزارت* https://moci.gov.af/sites/default/files/۲۰۲۳-۰۸/ [مراجعه: ۱۴۰۴/۸/۱۰]
- قدیري، ل. (۱۴۰۳ل). *د افغانستان او مرکزي اسیا هېوادونو ترمنځ...* طلوع. کابل. https://tolonews.com/pa/business-192899. [مراجعه: ۱۴۰۴/۸/۱۰]

# مننه